څوک چې يو شي په ځان راوځړوي نو همغه ته وروسپارل کيږي.

له عبد الله بن عکيم - رضي الله عنه - څخه مرفوع روايت دی: «چا چې يو شي په ځان راوځړاوه نو همغه ته وروسپارل کيږي».

[حسن] [ترمذی روايت کړی دی - احمد روايت کړی دی]

څوک چې په زړه او يا کړنې او يا دواړو سره د يو شي لورې ته پدې موخه وګوري چې ګټه ورته ورسوي او يا ورڅخه ضرر دفع کړي نو الله به يې همغه شي ته وروسپاري چې ځړولی يې دی، او چا چې د الله سره اړيکه وساتله نو هغه - ذات - ورته بسنه کوي او هر سخت کار به ورته اسانه کړي او څوک چې له الله پرته د بل څه سره اړيکه ونيسي، نو الله به يې همغه شي ته وروسپاري او ذليل به يې کړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6763